
(c) ketabton.com: The Digital Library


او همدارنګه کولی شو چې یو خط د دوه معلومو نقطو مبدا او انجام څخه رسم کړو.

لکه : L↵10,20↵15,25↵




څرنګه چې یوه نقشه له مختلفو خطونو لکه نرۍ اساسي خط ، ډبل اساسي خط ، محوري او داسې نورو خطونو څخه جوړه شوې ده .نو ↵LW کړی او د خپل خوښې خط او پنډوالی انتخاب کړی. لاندې مینو به پرانستل شي.

لکه :




څنګه کولی شو چې یو منکسر خط رسم کړو؟


یو منکسر خط په لاندې ډول رسمولی شو:

نوټ⇐ په ځینو کمپیوټرونو کې د @ علامه د 2 shift په واسطه او په ځینو کې د shift ګ په واسطه راتللی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

:. کله مو چې کوم ابجکټ باندی کلیک وکړ خط روښانه کیږی او ګریپونه ښکاری ښی کلیک (Right click) وکړ یوه مینو پرانیستل کیږی بیا په erase باندی کلیک کړئ.

لکه :





**انتخابول (Selection) :** سلیکشن په واسطه موږ کولی شو چې په اسانی سره یو ابجکټ په نښه کړو او ایډیټ یکی وکړو یعنی رنګ بدلون ، پندوالی ، پاکول ، انتقال ، کاپی او نور...

په اټوکیډ کی موږ دری ډوله سلیکشن لرو:


**1 – کلیک سلیکشن** : د دی په واسطه یوازی یو ابجکټ انتخابولی شو.

لکه



**2- د ښی خخه چپ طرف ته سلیکشن :** د دی په واسطه هغه شیان انتخابیدلی شی کوم چې د سلیکشن د پردی سره تماس ولری او که تماس ونلری نه انتخابیږی.

لکه :







Phone No⇒ 0783005642

ترتیــب کوونـکی: ســـلیمان (نـوری)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**3- د چپ څخه ښي طرف ته سليکشن :** يوازې هغه شيان انتخابولی شو کوم چې د سليکشن د پردې په منځ کې شامل وي که په منځ کې شامل نه وي نه انتخابيږي.

لکه لاندې شکل کې :




**پولی لين يا څو خطيز ته تغير ورکول (Polyline edit) :** که چيرې يوه ابجکټ د پولی لين څخه جوړ شوی وي او وغواړو په هغې کې بدلون راولو د Polyline edit څخه کار اخلو او نوموړی کمانډ په لاندې ډول فعاله کولی شو:

د modify اساسی مينو څخه د Polyline edit انتخاب کړی. او شارټ کټ يې لږ pe ده.

د نوموړی کمانډ د فعاله کيدو څخه وروسته يو اپشن خلاصيږی کله چې pe انتر کړی او پولی لين باندې کليک کړی يو بل اپشن خلاصيږی په دې اپشن کې د نظر وړ غوښتنه کيږی کولی شی اړوند اپشن انتخاب کړئ پولی لين ستاسی په غوښتنه بدلون مومی.

که موږ يو پولی لين رسم کړی وي او غواړو چې تغير پکې راولو نو لږ pe کوو او په پولی لين باندې کليک کوو.

لکه :






Phone No⇒ 0783005642
ترتيــب کوونـکی: ســــليمان (نـوری)

